# عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ لِلَّهِ، فَإِنَّكَ لَا تَسْجُدُ لِلَّهِ سَجْدَةً، إِلَّا رَفَعَكَ اللهُ بِهَا دَرَجَةً، وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيئَةً

له مَعْدَانَ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ الْيَعْمَرِي څخه روايت دی وايي: د رسول الله صلى الله عليه وسلم له ازاد شوي غلام ثوبان سره مخ شوم، نو ورته مې وويل: په داسې يو عمل مې خبر كړه چې الله تعالى مې پرې جنت ته داخل كړي؟ يا وايي چې ومې ويل: هغه عمل چې الله تعالى ته ګران وي، نو چپ شو. بيا مې ترې پوښتنه وكړه، نو چپ شو، بيا مې ترې په دريم ځل پوښتنه وكړه، نو ويې ويل: پدې اړه مې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وكړه، نو ويې فرمايل: «عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ لِلَّهِ، فَإِنَّكَ لَا تَسْجُدُ لِلَّهِ سَجْدَةً، إِلَّا رَفَعَكَ اللهُ بِهَا دَرَجَةً، وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيئَةً» « الله تعالى ته ډېرې سجدې كوه، ځكه چې ته الله ته هره سجده كوې، الله تعالى دې پرې درجه لوړوي، او يوه ګناه درځخه توېوي» معدان وويل: بيا له ابو الدرداء سره مخ شوم نو پوښتنه مې ترې وكړه، نو هغه خبره يې راته وكړه لكه څنګه چې ثوبان راته كړې وه.

[صحيح] [مسلم روايت كړی دی]

له پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه د هغه كار په اړه پوښتنه وشوه چې جنت ته د ننوتلو سبب ګرځي، يا د هغه عمل په اړه چې الله تعالى ته زيات ګران وي. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم پوښتونكي ته وويل: په لمانځه كې زياتې سجدې كوه، ځكه ته چې الله تعالى ته هره سجده كوې، نو الله دې پرې درجه لوړوي او يوه ګناه درته بښي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee